ولی محمد نورزی ۲۰۱۸/۰۳/۲۱

# نوی کال نوې ورځ او نوی پسرلی
## د وري لومړی ۱۳۹۷ل

د نوي ۱۳۹۷ل کال را رسېدو ته څو شېبې پاتې دي. د نوروز، نوي کال، نوې ورځ او نوي پسرلي لمانځنه د افغانستان په لرغوني تاریخ کې له ډېرو پخوا وختونو زموږ په هېواد کې دود ده. او تر ننه پورې دا ورځ د یوې ملي، دودیزې، کلتوري میلې په بڼه د پرتمینو رسمي او غیر رسمي غونډو په لړ کې لمانځل کیږي. د نوروز په راتلو سره د ژمي د فصل او موسم وروستۍ ورځ پای ته رسېږي او د پسرلي نوي فصل او موسم د ګلانو په غوړېدلو سره د بلبل په چنوهار پیل چې د نسترن، نرګس، غاټول او ګلاب ګلان په خپل زړه بخښونکي ورږم چاپیریال رنګ او ښایست وربخښي. غرونه، دښتې، شاړې ځمکې، غونډۍ او دَرې د طیلسان د ښایست داسی جامی اغوندي چه دهر انسان روحی او فکری ژوند ته د نوی فکر او نوی خیال هیلې او پیغام ور بخښي.



نوروز د ښکلي طبیعت د خوشالۍ هغه وسیله ده، چه په کال کې یوه ورځ را ښکاره شي او د راتلونکي هوسا او خوږ ژوند په زړه پورې الهام پکښې نغښتې وي. د نوروز یا نوي کال دا پرتمینه ورځ د نړۍ په ګوټ ګوټ کې په بېلابېلو ډولونو په اسلامي هیوادونو کې لکه آذربایجان، افغانستان، ازبکستان، ایران، تاتارستان، تاجکستان، تورکیې،



ارسال مقالات: info@arianafghanistan.com و یا spineghar@gmail.com

تورکمنستان، قزاقستان، قرغزستان، دگیستان ؟؟؟؟، کُردستان او ځینو نورو هیوادونو کی د یوې ځانګړې ورځی په توګه د خلکو له خوا په پرتمین ډول لمانځل کیږي چې پخوانی تاریخي، او کلتوري جرړې لري. هر هیواد دا ورځ د خپلو خلکو د لرغوني تاریخ پر بنسټ د خپل محیط او چاپیریال پر ماحول په جلا جلا ډول سره لمانځي چې د لمانځني مراسم یی یو او بل ته ورته نه دي.

په افغانستان کی دا ورځ هم خپلې تاریخي ریښی لري. نوروز یا پسر لی زموږ په هېواد کي د بېلابېلو توکمونو په منځ کی د بیلا بیلو مراسمو په ترځ کي لمانځل کېږي. د هېواد په سویلي، لوېدېزو او ختېزو برخو کي لکه هلمند، کندهار، فراه، نیمروز، زابل، وروزګان، ننګرهار، لغمان کنړ، پکتیا، میدانښار او غزني ولایتونو کي دا ورځ د دولتي چارواکو او عادي وګړو لخوا د نوي پسرلي یا د بزګر د ورځی په نامه یادېږي.

د ځمکو خاوندان، کروند ګر او بزګران له ولایتي چارواکوڅخه کیماوی کود او سره، اصلاح شوي تخمونه، میوه لرونکي او بی میوي نیالګي او د ځمکي د کرهني او د نباتي د تولیداتو لپاره ډول ډول دواوې ترلاسه کوي. د کرهنی وزارت دنده لري چه د ټول هېواد په کچه د څارویو د ښه روزلو او د کروندګرو د ښې هڅوني او همکاری په موخه خپله مرسته په وړیا ډول او یا اود اوږد مهالي پور له لارې لاسته راوړي او د یوه منظم پلان له مخي یې بزګرانو ته ورکوي.

بزګران په دغه ورځ خپل تکړه روزل شوی څاروي د ننداري لپاره د ولایت مرکز ته راولي تر څو د چارواکواو نورو بزګرو د پام او ښې هڅوني لامل وګرځي.

د هېواد په شمالي او منځنیو برخو کي دا ورځ د « دهقان » او د جنډې د پورته کولو له ورځی سره سمون خوري. په مزار شریف، کابل، پروان، بامیان، بغلان، تخار، میمنه، کندز، هرات، جوزجان، سمنګان، غزنی او نورو سیمو کي جنډۍ پورته کیږي.

ددی سېمي خلک بیا په نورو ملی لوبو او ننداړو سره دا ورځ د خوشالي او نیک مرغی په چاپیریال کي په دودویزه توګه د ځانګړو مراسمو او پروګرامونو په لړ کي لمانځي او په ډېرو درنو او پرتمېنو مراسمو سره ددې ورځې درناوی کوي.

په دې ولایتونو کی د وز لوبي (بزکشی)، شلګرې « نیزه » ځغرځولو او د غېږ نیونې لوبي هم د خلکو په منځ کی ځانګړی ځای لري چه د لېدلو او ننداري وړتیا لري.

د افغانستان دیرش کلني جګړې ، کورنیو نښتو او بهرني ښکیلاک زموږ د ګران هیواد خلک له ملي، مذهبي، کلتوري او عنعنوي میلو څخه بې برخي کړل. زموږ ویاړلو وګړو ددغو ښادیو او خوشالیو پرځاي ظلم، غم، درد، مرګ، ناخوالي، او درني قرباني ورکړې.

دوی د نوزوز د خوشالي ورځ نه لري، د اخترو د مبارکی ورځی نه شي لمانځلای او د خپلواکی او خوشالی د نورو ورځو له لمانځني هم بې برخي دي. زموږ پر هېواد د نړي د ټولو زورورو زبرځواکانو یرغل او تېری وکړ. که یو زورور زبرځواک له ماتي سره مخامخ شوی ورپسې بل یې لا وختي د تیري او یرغل لارو چارو ته په ګونډو ناست وي. چه د دوستی په نوم د یرغل او ښکیلاک ریښی ټینګوي او موږ ځپی.

افغان لوړ پوړي چارواکي د خپلو خلکو د چوپړ جوګه نه شول. زموږ د حق او عدالت څارنوالان او قاضیان، تش په نامه ټاکل شوي وکیلان، ګومارل شوي بی مسلکه وزیران، آماتور سفیران او بی سواده والیان او انتخابي ولسمشر د خلکو د سوکالی، آرامي او پرمختګ لپاره هیڅ هم ونه کړل. د فساد او لوټماریو دروازی پرانیستي دي، بډې اخیستل په کرس روان دي ، اداري فساد او زورواکي د قانون د ستوني تر توتکي پوري رارسیدلي دي.

د قانون د پلي کولو لړي ډیره بي سیکه شوې ده، کورني زور واکه مافیا په ښکاره ډول سره خلک څپی او وینی یې څښي، ولی دوي خپلو چړچو او میلو ته دوام ورکوي.

بهرنی پوځي ځواک بیا په رڼا ورځ رانده او بی پلانه هوایی بمونه پر کوچنیانو، زړو او ځوانانو، د سیمي د خلکو پر نر او ښځو باندي غورځوي. د بازخواست او حق دروازی تړل شوی دي. دعدالت او حقیقت ځاي درغلی او بی غوری نیولی دی. ظلم، ناتار، تیری او زورواکي لا تر اسوه په خپل حال پاتي ده. د خوارغریب افغان غږ څوک نه اوري، او دا ناوړي او ناخوالی د افغان انسان د عادي ژوندانه د قسمت او نصیب کاسه داسی نسکوره کړه، چې په د ټولي ستړې نړي په منځ کي یواځی بی غوره او بی همتا پاتي شو.

زموږ د افغانانو هیلی د یوي پرمخ تللي نړي په چوکاټ کي تر اوسه پوري بی ځوابه او لادرکه دي. د ښه ژوند ډاډمنتیا نه شته او په نیژدې راتلونکي کي د ښه ژوند د سمون او جوړښت هیڅ نښي او نښاني نه لیدل کیږي او دا لړۍ په ټپه ولاړه ده. د لویدیزي نړي د مرستي د ډالرو کاروان د کارګو پیماني د میلیاردونو تر سرحده واوښتي، مګر ډیر لږ یي د هیواد د پرمختیا او آبادی لپاره په کار ولویدی.

بهرني استازو، کورني داړه مارانو او لوړ پوړو دولتي فاسدو رشوت خورانو دغه رالیږل شوې مرستي چې پیمانه یې په میلیونونو ډالره کیږي په سپینو سترګو او رڼا ورځ له ستوني تیرې کړې او د هیڅ چا له خوا د پوښتني او ګرویژني لړۍ پلي نه شوه.

زه د نوي۱۳۹۷هجری شمسي کال د رارسیدو له امله ټولو دوستانو، خویندو، میندو، ځوانانو او زړو، درنو ملګرو، په بهر او کورکی د ننه ګران افغانستان، ټولو محترمو درنو هیوادوالو ته د زړه له کومی مبارکی وایم. او د لوی خداي (ج) له دربار څخه ټولو هېواد پالو هیوادوالو ته په نوی لمریز کال کی د ښه خوشاله ژوند، روغتیا، او یووالي هیله او کوم، د ټولو هیوادوالو لپاره دا نوی کال او نوي پسرلی په افغانستان کی د سراسري سولې، سوکالي او امن ډک کال غواړم.

هیله لرم چي ټول افغانان په کور دننه او بهر کي چي د نړی په هر ګوټ اوهر ځای کي چي ژوند کوي نوی کال په نویو هیلو، په خوښی او خوشحالی، د دوستي او یووالی په چاپیریال کی تیر کړي. خپل کور او هېواد په خپل لاس ودان کړي او ټول هیوادوال پرته له هر ډول کینی، بغض او تبعیض له یو بل سره یو موټی شي، او د دوستی او اخلاص په فضا کی ژوند وکړي، ترڅو خپلو خلکو او ګران هېواد ته د چوپړ وړ وګرځو او د خپلي خاوري د ساتني لپاره د لوړ احساس په توان او ځواک پیاوړی ډال شو. هره ورځ مو نوې ورځ او نوی کال مو نېکمرغه

پای